# BCG
# واکسین

## موراو پلار لپاره له علاج وروسته

د BCG واکسین د ځای ساتنه باید څرنګه وکړای شي



# BCG
## واکسین

## ستاسي ماشوم ته له BCG واکسین ورکول کېدو وروسته تاسي څه تمه لرئ



په **۱-٦ اونیو کې**، ښایي د وهل شوې ستنې په ځای کې یوه وړه، سره تڼاکه راښکاره شي. دا به په یو څو اونیو کې روغه شي.

له **٦-۱۲ اونیو وروسته**، دغه تڼاکه ښایي په یو ورکوټي بهېدونکي ټپ بدل شي. که داسې وشي، نو د واکسین ځای په ململ سره پټ کړئ چې هوا ورته ورځي. **نښتونکې پلسترې پرې ونه لګوئ.**




د ټپ په رغېدو کې ښایي درې میاشتې وخت ولګي، او ښایي چې په ځای یې یو داغ پاتې شي. دا نورمال ده.

## د واکسین د ځای ساتنه باید څرنګه وکړای شي

- ځای پاک او وچ وساتئ.
- که ټپ جوړ شي، نو ځای په ململ پټ کړئ څو هوا پکې دننه ورتللی شي.



**په ځای زور مه کوئ او ګروئ یې مه.**



**په ځای نښتونکی پلستر** مه لګوئ.



**په ځای ملهم، تېل، یا بوټي** مه ږدئ.



په ځای باندې چاپې یا **هیڅ شی مه مږئ.**

که تاسي کومې اندېښنې یا د TB یا د BCG واکسین په اړه معلوماتو ته اړتیا لرئ، نو د خپلې عامې روغتیایي نرسې سره اړیکه ونیسئ.

د عامې روغتیایي نرسې نوم: ______________________________

تلیفون: ______________________________

**که د ټاکلو د ساعتونو نه وروسته تاسي کومې پوښتنې یا اندېښنې لرئ نو لطفاً Healthline ته په دې شمېره زنګ ووهئ ۰۸۰۰ ٦۱۱ ۱۱٦**

MINISTRY OF HEALTH
MANATU HAUORA

New Zealand Government

Free health advice when you need it
Healthline 0800 611 116

October 2009
HE2239 Info for parents on TB/BCG post-vax (Pushto/Afghani)